اللهم ربنا الكريم العظيم لك الحمد والشكر فى كل لمحة ونفس عدد علمك وزنة كبريائك كما انت اهله وتحب وترضى. اسئلك من خير ما تعلم واعوذ بك من شر ما تعلم انك تعلم ولا نعلم وانت علام الغيوب

بسم الله الرحمن الرحيم

په لوے سحر چرګه دربار کښے د جانان
د ګل په شان غوړیګه ګلزار کښے جانان
هزار هزار نعیمه. هزار هزار شمیمه
حاصل کړه له نسیمه خسار کښے د جانان
ګریبان پاره پاره کړه. د زړه زخم ښکاره کړه
د دردو غم نعره کړه نښار کښے د جانان
جمال د ګلے خوبانو. وصال د ګل خوبانو
حاصل کړه د زلفانو پوتار کښے د جانان
د حسن په تکریم. سر بنکته په تسلیم،
دالور عرش عظیم پانوار کښے د جانان
که نے مرد میدان قدم کیږده په څان
شه تیر تر څان و مان په لار کښے د جانان

دَګل غوټۍ غوړیږي. بلبلې په ګل جرېږي
خه ښکلې دوي غکیږي. روزګار کېنې دَجانان
نقیر محمد امینه - له ربّ العالمینه
نصیب دِ شه دا مینه کړ دار کېنې دَجانان

بسم الله الرحمٰن الرحیم ؐ

رب العالمینه انګریزے قانون برباد کړے
لوے دُوطن نه دُفسق وفجور بنیاد کړے
رب العالمینه په پاک مخ دَمحمدؐ حبیب
تهٔ نصیب څوېږه په دے خپل دین اعتماد کړے
پوسنا شت که څنګ نوی خودَشریعت جوړون
تهٔ نصیب څوېږ دَپاک حضرت په پاک ارشاد کړے
څوک چه انګریزی تعلیم تنظیم ته دروند نظرکوی
د غسې ظالم جاهل خو خدای نا مراد کړے
مونږ دَشیطانی قانون په دام کېنې ګیرږی چه څوک
تهٔ تالا تباه دام دَدغه ظالم صیاد کړے
بیا دَخپل اسلام په سیالئ بوئے کړے مسلمان به
بیائے په مشرق او په مغرب کېنې زندهٔ باد کړے
دادجانشت نا جیه سیالان څوانان رب به
تهٔ نصیب دَدۓ مجاهدینو حق جهاد کړے
خدایه په پاک مخ د پاک حضرت اشرف المرسلین
کړے په خپل دربار قبول دوړا دعدل و داد کړے

خپل قرآن آزاد کړے
خپل قرآن آزاد کړے
ستا په دربے حد قریب
خپل قرآن آزاد کړے
خدایه دَعزت جوړون
خپل قرآن آزاد کړے
قدر دَکافر کوی
خپل قرآن آزاد کړے
مونږ آزاره وی چه څوک
خپل قرآن آزاد کړے
ورکړے هندوستان ربه
خپل قرآن آزاد کړے
کړے په دین قربان ربه
خپل قرآن آزاد کړے
سوال دَمحمد امین
خپل قرآن آزاد کړے

بسم الله الرحمٰن الرحیم ؐ

اللهم ربنا الکریم العظیم الاعلیٰ لک الحمد والشکر واسمائک الحسنیٰ وجمیع صفاتک فی کل لمحةٍ ونفَسٍ ولحظةٍ وطرفةٍ من ذرات الکائنات عدد علمک وزنة کبریائک وعزة عظمتک کما انت اهلهٗ وتحبّ وترضیٰ، وکذالک الصلوٰة والسلام والتحیة علیٰ اشرف الانبیاء والمرسلین وعلیٰ اٰله واصحابه اجمعین ؐ واعطه الوسیلة والفضیلة لااله الاانت سبحانک انی کنت من الظالمین ؐ

بسم الله الرحمٰن الرحیم ؐ

اظهار نور ایمانی

اللّٰهم ربنا الکریم. که دَدے اتو جنتونو په شان ښکلې او لوئے لوئے جنتونه هزارهزار اربونه. او هزارهزار کړبونه په لمحه لمحه او لحظه لحظه، او طرفه طرفه. او نَفَسْ نَفَسْ دَابد الابد کېنې پیدا کړے. نو ستا دَعلم په مقدار دِ په لمحه لمحه او لحظه لحظه او طرفه طرفه او نَفَسْ نَفَسْ دَابد الابد کېنې ستا دَعلم په مقدار دِ قسمونه وی. چه هغه په یو (کُن) به فیکون کیږی. پیدا کیږی. چه په کوم یو کُن یوه ذرهٔ دَ یوه اړخ نه په بل اړخ اوړی. اِنَّمَا اَمْرُهٗ اِذَا اَرَادَ شَیْئًا اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ؐ سبحان الملک الخلاق ؐ فتبارک الله احسن الخالقین ؐ شهد الله انه لااله الا هو والملٰئکة واولوا العلم قائما بالقسط ؐ لااله الا هو العزیز الحکیم ؐ وانا اشهد بما شهد الله به واستودع الله هٰذه الشهادة لاحول

ولاقوة الا باللّٰه العلی العظیم ط

نوکه بیا دا مذکور جنتونه دِ عاجز او خجل عاصی خوږن بنده خادم الاسلام مداح نبی الکریم صلی اللّٰه علیه وسلم، محمد امین بن محمد اسعد دَ باره پهٔ مقابله دَ یو لږے دَ ترک دَ حیا او ادب او غیرت دَ سنت او شریعت کښے ورکید ے شی. نو ستا دَ علم په مقدار دِ په بیان مذکور قسمونه وی. چه دغه جمله جنتونه مذکور به پریدی۔ او دغه یو لمحه کښے ترک دَ حیا او ادب او غیرتِ شرعی به پهٔ خپل اختیار قبول نکړی۔ ذَالِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَاءُ ط وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ه

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم ه

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا	تا له کل حمد وثنا
خاص چه تا سره خاییږي	پهٔ بیان کینے نهٔ ځائیکی
ستا د علم په مقدار تل	ترابده په بار بار تل
له ازل نه دغه شان	ستا پهٔ لوی احسان فیضان
وی جاری دِ خپله ربه	قائم تل تر تله ربه
هم درود په دغه شان	پهٔ ډیر زیات ښکلی جانان
پاک محمدؐ مصطفیٰ	بحر فیض احسان وفا
هم په آل هم پهٔ اصحابو	هم پهٔ جملګی احبابو
دَ محبوب پاک محمدؐ	دَ مطلوب پاک محمدؐ
هم په دغه شان مقدار	عاجزی او انکسار
بنده ګی شکستګی	خجالت شرمندګی

استرجاع[1] او استغفار[2]	عشق و شوق دَ زړهٔ بیمار
محبت اخلاص ادب	حیا درد و سوز یارب
تا ته عرض دِ دی بیا بیا	اَللّٰهُمَّ کبریا
که دَ دے اتو جنتو	پر له عیش او له لذتو
پهٔ شان ښکلی جنتونه	او ښوا ړي ستا قدرتونه
نو هزار هزار ربه نه	هم هزار هزار کړبونه
به پیدا هره لمحه شي	هو پیدا هره لمحه شی
بس پهٔ هغه کُن یاربه	زار کړے ما تر خپل ادبه
یو ذره چه پهٔ کرم دَ کُن	پهٔ ارخ آوری پهٔ سخن
پهٔ هوا کښے ذره فی الحال	به ډیر کم نری شمال
هسے لوی توان لرے ربه	هسے لوی شان لرے ربه
له قدرت نه دِ قربان شم	دَ عظمت نه دِ قربان شم
دَ عزت نه دِ قربان	له رفعت نه دِ قربان
دَ جمال نه دِ قربان	دَ وصال نه دِ قربان
دَ رضا نه دِ قربان	دَ لقا نه دِ قربان
ستا دَ علم پهٔ مقدار تل	همیشه لیل ونهار تل
بیا ازل نه ترابده	پاکه اللّٰهُ الصَّمَده
که پیدا اکړی جنتونه	پکښے جمله نعمتونه
پهٔ مذکور بیان یاربه	ډر لوګے هر آن یاربه

[1] إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ۱۲

[2] أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ

بیا دا بول مذکور جنته — پرله عیش ول عشرته
ورکیدے شی فقیر خوارته — ستر گے بنکته گنهګار ته
بینوا محمد امین ته — ملامت حزین غمګین ته
مقابل دَیو لمحے کښ — مقابلے دَیو طرفے کښ
چه شي ترک ادب غیرت — دَقانون دَشریعت
په والله قبول به نکړی — په والله محمول به نکړی
هیڅ ے په خپل اختیار — ستا دَعلم په مقدار
قسمونه دِ په دا وي — ابدا وی. ابدا وی
لوی خاوندی رب العزته — زارشم ستا له شریعته
ته دانا بینا خبیر — نے دَ هرچا په ضمیر
زهٔ ناتوان یم په ویلو — ته قادر نے په کولو
اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا — چه لایق نے دَ ثنا
دا ستا فضل او احسان دے — هدایت ستا او فیضان دے
دَحضرت په وسیلے — دَسنت په وسیلے
دَ پیرانو په آبرو — دَ دوستانو په آبرو
په آبرو دَ کل نیکانو — پاکیزه پرهیزګارانو
لښته حول او نهٔ قوت — په عصیان او په طاعت
بے لتا خپله خاونده — کبریا خپله خاونده
لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ — لا پناه الا اَنْتَ
لَا مَعْبُوْدَ الا اَنْتَ — لَا مَقْصُوْدَ الا اَنْتَ
لَا مَسْجُوْدَ اِلَّا اَنْتَ — لَا مَوْجُوْدَ اِلَّا اَنْتَ

سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِیْنَ ۝
وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝

بسم الله الرحمن الرحيم

مونږ را جدا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
تالا والا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
زړونه زخمی زخمی زولن زولن پرهر پرهر شو
ستا دَحرم نه چه ژوندي په خپلو خپو با هر شو
په واویلا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
مونږ را جدا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
عجب حیران یو چه په ویخه که په خواب وو وصال
محبوبه ستا دَ پاک حضور په کوم حساب وو وصال
ګډ په سودا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
ماله وصاله اول غم دَ هجران وو جړلے
دَ زړهٔ په ستر ګوم اول دغه غم وولیدلے
په اور جلیا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
دا په څهٔ جوند وی ته اور ے او مونږ دے محبوبه
بیا چه درزی دَ عاشقانو قافلے محبوبه
کهٔ پاتے بیا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
ستا دَحرم نه هزاران فردوسه زار کړم والله
دا مو ایمان دا عقیده دغه اقرار کړم والله
سر په غوغا شو په هزار حسرت ارمان جړلو
مونږ را جدا شو په هزار حسرت ارمان جړلو

ستا دَ حرم مبارک خکلے دورِم ډیر یاد یږي
اندرون زړه مِ په انګار ستا دَ هجران سوز یږي
جدا لتا شو په هزار حسرت ارمان جرلو

صلاة سلام دِ وي پهٔ تا محبوبه هرځائے چرېو
دَرب دَ لوئے علم پهٔ شمار مطلوبه هرځائے چرېو
لاس به دعا شو په هزار حسرت ارمان جرلو

دَ محمد امین محبوبه محمد عربي
اشرف الانبیا مطلوبه محمد عربي
نثار پتا شو په هزار حسرت ارمان جرلو
مونږ را جدا شو په هزار حسرت ارمان جرلو

بسم الله الرحمن الرحیم

دَ روژے پهٔ خوشحالئے کښې نظم

شه مبارک دِ مسلمانه دا رمضان مبارک
څهٔ لوئے احسان دے لہ سبحانه دا رمضان مبارک

ډیر معزز مهمان دے راغے ډیر تعظیم ئے اوکړه
ډیر مکرم مهمان دے راغے ډیر تکریم ئے اوکړه
دے عزت مند لہ هر مهمانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

قرآن دَ رب چه هدایت دے دَ الله دَ دوستئ
جمله احسان او عنایت دے دَ الله دَ دوستئ

ستا ئلے شوے لہ قرآنه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

دَ رب دوستانو ته وی لرے دروازے دَ جنت
وی زیبا شوے پهٔ جنت کښې لہ هر قسمه نعمت
فیض دَ رب لہ لوئے احسانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

څوک چه دوستان دي دَ الله پکښې طاعت ډیر کوی
دَ رب طاعت سره اخلاص او محبت کوی ډیر
راغے لوئے فضل دَ مولانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

هر یو ما بنام دَ رب په دوست باندِ اختر جوړ وی
په پیش نمي خلق سامان دَ ګران محشر جوړوی
دوره خفه نشی لتانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

راشه دوستئ لہ دَ مولا توبے تو بے نارے کړه
نور دِ شیطان نکړی تالا توبے توبے نارے کړه
وخت دَ توبے دے عجب ځوانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

چه په رمضان شریف کښې نهٔ شے توبه ګار مومنه
خدائے خو دِ نکړی دریغاره دِ ومره عار مومنه
وخت دَ توبے دے واوره مانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک،

هغه به بوئے شي په وینا باندے د محمد امین
څوک چه اصیل وي او سیالي غیرت کوي په خپل دین
لوي صفت دے د لویه بیانه دا رمضان مبارک
شه مبارک اے مسلمانه دا رمضان مبارک

د جهاد فی سبیل الله غازی متعلق بهترین نظم

د خدائے په دردے څومره قدر او عزت د غازي
چه په قرآن کښے الله کړے دے صفت د غازی
غازي محبوب دے د الله دا په قرآن کښے شته دے
سورة صف اوګوره صدق بم بیان کښے شته دے
بل هغه مرګ چه حق د کل اهل جهان کښے شته ده
غازی په هغه نه مري دا د رب فرمان کښے شته دے
یا نے ژوندے شو چه نصیب شی شهادت د غازي
د خدائے په دردے څومره قدر او عزت د غازي
غازي چه سر کړلو په نوم باندے قربان د الله
خلاص شوله مرګه دے ګواه په دے قرآن د الله
اوګوره سورة بقره کښے دا برهان د الله
شهید ژوندے بولي چه وي څوک مسلمان الله
بے غسله ښځه وي ژوندے صورت د غازی
ابن عباس له پاک حضرت نه روایت کړے دے

چا چه یو شپه د خدائے لار کښے شفقت کړے دے
اوس د دوزخ په خدائے حرام په خپل رحمت کړے دے
او رچه حرام شو نو د ده ځائے ئے جنت کړے دے
نور دیر اجرونه بیان کړی پاک حضرت د غازي
بل روایت دے له ابو هریره نه ځان خبر کړه
یو سړے تیر شو له اصحابو نه د خیر البشر
په یوه غاړه چه پکښے وه چینه خوږه په هنر
د سړي خوښه شوه د پاره د طاعت د اکبر
نه وو خبر په عظیم اجر د طاعت د غازي
د خدائے په دردے څومره قدر او عزت د غازي
سړی وے دلته به مونځ کړو تل که وے فراغت
په دے حضرت شو او وے ورته شاه د عزت
یو او دریدل د خدائے په لار کښے لوی دومره رحمت
لکه چه مونځ کړی او یا کاله کور د شان په خلوت
په دومره مونځ باندے قیام کړی زیات د غازي
د خدائے په دردے څومره قدر او عزت د غازي
مونځ او یا کاله د زاهد ځان له خلوت کښے خلقه
کم او دریدونه د غازي دے په طاعت کښے خلقه
نور ئے له دینه زیات بیان شی څه عزت کښے خلقه
چه ئے ګویا د رب قرآن دے په صفت کښے خلقه
خدائے دې نصیب کړی ځمونږ اجر او خصلت د غازي

دَ خدائے په درد ے خومره قدر او عزت دَ غازي

دا اجر هله دے چه کړي جهاد مولیٰ دَ پاره
قربانه وی ځان دَ محمدؐ مصطفیٰ دَ پاره
که څوک جهاد کړي دَ دنیا دَ مال ادنیٰ دَ پاره
یائے په ننګ او په ناموس کړي دَ بل چا دَ پاره
دا دوزخي دے. دَ ده نشته شرافت دَ غازي
دَ خدائے په درد ے خومره قدر او عزت دَ غازي

روښن و مسلا او تړئ جهاد ته په غیرت دَ اسلام
جهاد کوئ چه ذوالجلال زیات کړي عزت دَ اسلام
پورته کفارو باندے شي شان و شوکت دَ اسلام
کلمه پورته دَ توحید شي په نصرت دَ اسلام
خلاصیږي او رنه به ډیر خلق په شفاعت دَ غازي
دَ خدائے په درد ے خومره قدر او عزت دَ غازي

راکړے توفیق مونږ ته څوند ره رب العالمینه
چه غزا اوکړو دَ حضرت رسول الله په مینه
خلاص کړو مذهب او خپل وطن له دَ شیطان لعینه
الله په مخ دَ پاک حضرت له محمد امینه
په صحیح نیت کړے ادا فعل او همت دَ غازي
دَ خدائے په درد ے خومره قدر او عزت دَ غازي

بسم الله الرحمن الرحیم

حبیب خدا اشرف المرسلین ئے
قرآن کښے موصوف په طٰهٰ او یٰس ئے
جهان شور و خان ستا دَ مخ له رڼانه
محبوب خدا څومره زیبا حسین ئے
نبیان په محشر چه صدائے نفسي کړي
ته حضرت شفیع الامم یوم الدین ئے
ته سرا پخیدونکے شفاعت دَ پاره
الله ته دَ لاندے دَ عرش برین ئے
الله به معاف کړی اُمت ستا له اوره
ته ډیر عزت مند په رب العالمین ئے
په یوسف که شیدا وو پیرِ دَ کنعان
ته محبوب دَ رب دلبر بهترین ئے
ته وجه الجمیل او ته طرف الکحیل ئے
مکی مدنی هاشمی دلبرین ئے
دَ خاکِ قدم ستا نه زړه ځل قربان شه
قسم دے محبوب دَ محمد امین ئے

بسم الله الرحمن الرحیم

دا دَ اسلام نه مروړ شوے مسلمانان و لے
په غرونو سر شوے لیونے او سرګردانه و لے
دین ته دِ و لے دَ دنیا په محبت شا کړله
دین پاتے کیږي په دنیا باندے له تانه و لے

خدائے دِ جنت لہ بلي دَ خپل انعام دپارہ
ترزے دوزخ تہ دَ جنت لہ گلستانہ ولے
دَ یو دَ بل پہ در مضطر خاورے پہ سر ولاړ ئے
دَ خدائے لہ لارے ځنے شولے سرگردانہ ولے
ستا پہ شان ډیر خاورو کړہ کیدنام ونشان ورک شو
دومرہ پہ ناز او تکبر ئے خرامانہ ولے
کوم یو قصور دِ دَ قرآن قانون کنبے اولیدلو
دا بے قصورہ روگردان شوے دَ قرآنہ ولے
دغہ اسلام وو دَ حضرت پہ پیالو وینو سیراب
نن دَ او بو سیرابے نہ وہي لہ تانہ ولے
خدمت دَ دین درتہ پردے او بیکانہ بنکارېږي
فارغ کیدے نہ شے ډیر دومرہ ئے بادانہ ولے
مولا چراغ دَ ایمان درکړو روښانہ پہ لاس
وجنے پخپلہ دا زیبا چراغ روښانہ ولے
محمد امینہ چہ توفیق دَ ذوالجلال شی مل
ستا نصیحت ځنے بہ څوک نہ شی ستومانہ ولے

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ۝ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ ۝ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ۝ تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝

قرآن کریم دے

فرمان دَ سبحان دا قرآن کریم دے | څمونږہ ایمان دا قرآن کریم دے
پہ لوح محفوظ کنبے لیکلے خاوند | پہ ډیر عزوشان دا قرآن کریم دے

راوړے لہ لوحِ محفوظہ جبرئیل | درب پہ احسان دا قرآن کریم دے
هر حرف ئے پہ اندازہ دے کوہِ قاف | عظیم هسے شان دا قرآن کریم دے
دَ هر حرف دَلاندہ معنے بے حسابہ | حکمت او بیان دا قرآن کریم دے
محمد حبیب رسول امانت | بیا دیر پہ بنہ شان دا قرآن کریم دے
نازل کہ پہ غرہ وتلے بہ خوږ وو | خاوند دَ لوئے توان دا قرآن کریم دے
خاوند دَ بخشش قرآن دِ خوارز و | چہ تا باندے گران دا قرآن کریم دے
وسیلہ محمد امین پاک محمد | هم ډیر فیض سان دا قرآن کریم دے

بسم الله الرحمن الرحیم

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ۝

عرشِ عظیم

پہ ذیل دَ دے آیت مبارک مذکور کنبے پہ تفسیر حسینی پہ آخیر دَ سورۃ توبہ کنبے لیکلی دی. پہ یو روایت عرش عظیم دیرش لکہ قاعدے لرے. لہ یوے قاعدے نہ تر بلے پورے دیرش لکہ کالہ لار دہ. وهو علیٰ کل شیءٍ قدیرہ او پہ نادر المعراج کنبے لہ ریاض الذاکرین نہ نقل کوی چہ عرش عظیم هرہ ورځ اویا زرہ رنگونہ دَ نور نہ پیدا کوی. او هیڅ یو طاقت نشتہ. چہ هغہ پو نور تہ دا کتے شی. او لہ هغہ وختہ چہ عرش عظیم پیدا دے هرہ ورځ پنځہ سوہ کالہ کشتہ دہ یعنے نوا خیگی. وهو علیٰ کل شیءٍ قدیر او دا عرشِ عظیم او منور دَ اول حصے دَ نور دَ محمد مصطفیٰ صلی اللہ علیہ وسلم نہ پیدا کړے دے. الحمدللہ سبحان اللہ

په فراق دَ محمدؐ صلی الله علیه وسلم کښې

هزار ځل دا جهان که وران شي په فرقت دَ محمدؐ
ادا به حق نهٔ شي هرګز دَ مصيبت دَ محمدؐ

ارض و سما عرش و کرسي که شي ذرګ ذرے زړځل
دی ډير لايق چه له فاني اوشوی حلت دَ محمدؐ

ځلوی ياران پهلوانان په وينو سرو کوي ګريان
عظيم الشان هجران لری ځومره قوت دَ محمدؐ

دَ اهلِ بيتو دَ ماتم. ويلے حال نهٔ شم قسم
زړونه خوٴ شو قلم قلم. پهٔ دے هجرت دَ محمدؐ

په اصحابانو جوړ محشر. په لوئ ماتم دَ پاک سروَر
پهٔ غم ئے شو زړونه پرهر. هزار کرت دَ محمدؐ

کون و مکان به لړزيدو. عرشِ عظيم راغوزيدو
پهٔ ملکوت کښې غلغليدو دَ غم نوبت دَ محمدؐ

په داسے لوئ غم بااثر. چه دَ چا زړهٔ نهٔ شي پرهر
افسوس په داسے بے هنر نادان اُمت دَ محمدؐ

اِنَّا لِلّٰه وَاِنَّا اِلَيهِ رَاجعون دِ وی
دَ رب دَ علم پهٔ مقدار په هر ساعت دَ محمدؐ

دَ محمدؐ امين ناتوان. نصيب کړے خدايه خپل ايمان
سره دَ هر يو مسلمان پهٔ شرافت د محمدؐ

مخ دِ والضحیٰ يا دېږي رب ستايلے پهٔ قرآن ئے
په ډير لوئے دربار دَ پاک رب ځومره ډير بے حد ګران ئے

اشرف المرسلين ته ئے. سرورِ بهترين ته ئے
دخوبانو په محفل کښې دلبرِ نازنين ته ئے

دواړه کونه در لوګے کړم ته محبوب دَ پاک سبحان ئے
مخ دِ والضحیٰ يا ديږي رب ستايلے په قرآن ئے

صد هزار هزار فردوسه په هر خم کښې دَ زلفانو
لوے قسم په پاک رب به مذهب دَ عاشقانو

دومره ډير ښکلے محبوب ئے دومره ډير ښکلے جانان ئے
ستا دَ مخ په تجلو شوه دَ عدم تياره روښانه

دَ رخسار انوار دِ پوره عرش نه زی تر لامکانه
زار لتا دِ دواړه جهانه دلبر هسے عاليشان ئے

ستا له مخه پناه غواړم پهٔ جمال ستا دَ رخسار
دَ زړګی په وينو جاړم. دَ مولا په لوئے دربار
بل مراد مقصود م نشته بس هم ته ځما ارمان ئے

که ذرے دَ کائنات م رب روحونه کړي قسم دے
ستا په در به ئے لوګے کړم شوق م داپهٔ زړهٔ هوډم دے
بس هم دغه م سودا ده. والله خوخ م هسے شان ئے
که هزار سمندی ونه م دَ اوښو شي روان،

والله حق به ادا نهٔ شي ستا دَ لوئے غم دَ هجران
دلبر هسے عاليجاه ئے دلبر هسے فيض رسان ئے،

خوار فقير محمد امين ازلي يتامين دے
کل مراد مقصود ئے ته ئے زړه ئے تا پسے زولن دے

واللّٰه بس ته ئے ارمان ئے واللّٰه بس ته ئے ارمان ئے

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ط

سبحانك اللّٰهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك توبة عبدٍ ظالمٍ لا يملك لنفسه ضرًّا ولا نفعًا ولا موتًا ولا حياةً ولا نشورًا فی كل لمحةٍ ونفَسٍ وطرفةٍ ولحظةٍ عدد علمك وزنة كبريائك كما انت اهله وتحب وترضٰی. لا اله الا انت سبحانك انی كنت من الظالمين ط وكذالك الصلوٰة والسلام علی اشرف الانبياء والمرسلين ط وعلٰی آله واصحابه اجمعين ط

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ط

ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے
بے لتا جوندون م د جرا او د فریاد دے

بے لتا جوندون به څه کړم یا نبی خیر البشر
حال د څنکدن م دے په ژوند د مړو نه یم بتر
ډیر په ما له لاسه د بیلتون ظالم بیداد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

ستا د عاشقئ په دولت رب چه سرفراز کړمه
نو ځله به فخر په محمود او په ایاز کړمه
ستا په عشق کښې له ازل نه ما ته چه ارشاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

صد هزار فردوسه په هر خم کښې د زلفانو ستا
ما منلي دي په پاک مذهب د عاشقانو ستا

په زبان او په جنان په دواړو م ستا یاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

که د کائنات ذرے جمله ځما زوحونه شي
ستا په درد هر ساعت لوګے او هم ګردونه شي
بس په دے مقصود مراد مطلب م زړګے ښاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

ستا په لوئے دربار کښې د زړګي په وینو ژاړمه
لویه مولا ستا په درپناه له هجران ژاړمه
ما بے وس مظلوم د پاره دا ظالم صیاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

ستا له هجره کوی د زړګی شو سکاره ځما
ستا په ډیر روښانه مخ رب لرے کړه تیاره ځما
جمله عالم ستا د مخ له نوره زنده ښاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

دا د محمد امین ویل د عاشقئ په سوز
بیت د رون د زړه په خون جوړ د عاشقئ په سوز
دا بشکلے تعلیم ئے له کامل مرشد استاد دے
ستا وصال م بس په دواړو کونو کښې مراد دے

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ط

اللهم ربنا الكريم العظيم لك الحمد والشكر فی كل لمحةٍ ونفَسٍ وطرفةٍ عدد علمك كما انت اهله وتحب وترضٰی استغفرك واتوب اليك توبة عبد ظالمٍ لا يملك نفسه ضرًّا ولا نفعًا يا ذا الجلال

والاکرام ط برحمتک یا ارحم الراحمین ه

بسم الله الرحمن الرحیم ه

اے غنی او بے پروا پروری دکار اے
بتل څوندره له اقرار او له انکارا
که هزار هزار څوندره غوندے عالمه
هسته وے یا نیسته وے له هره دمه
نه به ستا خدائي په زیا تشي نه کمه
اے خاوند دَ هسے لوئے شان ذوالوقارا
که په هره یوه ذره دَ کائنات
اوکړے هسے احسانات او عنایات
لکه کړي دي په جمله مخلوقات
دا دیر حق دی ستا دَ لوئے فیض له دربارا
صد هزار هزار هزار محشره
که په یوه ذره درون کړے رب اکبره
اسان تا ته دَ یوه ویخته له سره
هزار واره هزار واره هزار وارا
جمله چه شو مذکور یا مذکور سري
په هغه یو کُن به فی الحال موجود یري
یو ذره چه په کوم کُنّ باندے خوزیري
توانا رب العزة خاوند غفارا
له ازل نه څوک چه ستا په دروله وو

په لوئے فضل موږ له هغو سره شمارا
محمد امین فقیر که هر څو کرم دے
دا اقرار ئے ستا په فضل و په کرم دے
بے تا څوک نشته جمله ته ئے قسم دے
اے په جمله حقیقت حق خبردار ه

بسم الله الرحمن الرحیم ه

اللهم ربنا الکریم العظیم لک الحمد والشکر والجلال والجمال واسمائک الحسنیٰ وجمیع صفاتک فی کل لمحةٍ وَنفَسٍ وطرفةٍ ولمحة من السنة ولطائف جمیع ذرات الکائنات عدد علمک و زنة کبریائک کما انت اهله وتحب وترضیٰ. اسئلک یا مجیب السائلین ان تصنع بنا ما انت اهله. ولا تصنع بنا ما نحن باهله بوجهک الکریم العظیم الجلیل و بوجوه جمیع انبیائک واولیائک لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین ه ماشاء الله لاقوة الا بالله ه وصلی الله تعالیٰ علی سیدنا محمد واله واصحابه عدد علم الله تعالیٰ کما هو اهله ویحب یرضیٰ یا ذا الجلال والاکرام

بسم الله الرحمن الرحیم ه

ته هم هغه ئے چه ته ئے ‖ اے رحیم کریم جواده
دا خوار هغه دے چه دے دے ‖ ور معلوم دَ بلا ښاده
د کرم دریاب دي لوئے دے ‖ دَ بلا غیره ېم بیاده
ستا په لوئے در لوئے خاوند ‖ دَ خجل عاصی غیاده
یو حُل نه ده بیاده بیاده ‖ اَن ستو ابد الاباده

ستا دَ علم په مقدار تل
دَ عالم عیب او شرمونه
بس پوازے دَ خوار کس
رسوائی دَ کوز و ستر کوئے
وَ جمله نشیب فراز
هغه ته ئے بلا خوک نشته
بس مراد مطلب مقصود کل
تا چه چاله جام ورکړے
ستا دَ حسن په بازار
لوړ چه ته خومره سرکوئے
په ویلو نه پوهیګم
ته په کړ دومره قادر ئے
په محبوب پاک دِ درود وی
ستا دَ علم په مقدار تل
ستا دَ علم په مقدار تل
له ازله خپله رب له
محمد امین کوزکوری

اے په حق رب العباده
او جمله قصه نا خاده
شکسته بنده رښتیاده
خکته تلے تر ثرے ده
ستا دَ حسن تماشاده
ډیره حقه دا وینا ده
ستا رضا ده ستا رضا ده
دَ هغو دغه غوغا ده
ګرمه شوے دا سوداده
حوالد جمله پتا ده
آئینه م نا صفا ده
چه پرے علم خاصه سنا ده
تاله جملګی ثنا ده
مکرره دا دعا ده
هغه شان چه خوښه ستا ده
ان ترابد الابا ده
ستا رضائے مدعا ده

بسم الله الرحمن الرحیم

اللهم ربنا الکریم العظیم لک الحمد والشکر واسمائک الحسنیٰ وجمیع صفاتک فی کل لمحةٍ ونفسٍ و لحظةٍ وطرفةٍ عدد علمک وزنة کبریائک کما انت اهله وتحب وترضیٰ. یا ذا الجلال والاکرام برحمتک یا ارحم الراحمین

بسم الله الرحمن الرحیم

اللهم ربنا الکریم العظیم لک الحمد والشکر واسمائک الحسنیٰ وجمیع صفاتک فی کل لمحةٍ ونفسٍ عدد علمک وزنة کبریائک کما انت اهله وتحب وترضیٰ. وکذالک الصلوٰة والسلام علیٰ حبیبک المصطفیٰ وعلیٰ اله واصحابه اجمعین ط یا ذا الجلال والاکرام ۔

ډیره خپله او ډیره لویه خاوند که هغه جمله موجود عالم چه دَ نیستی نه تا هست کړے دے. یائے پسته هسپا کړه چه خاص هم ستا په علم قدیم کښے دے. او دَ یله چا علم کښے نه شی ایتلے دا تلے. که دَ غه جمله مخلوق رطب او یا بس حیوانات او نباتات او جمادات ذرے کړے او دَ دغه جمله ذرو په پوره شیر هم دَ غسے لوئے الوئے موجود دَ کائنات دَ هغو ذرے په جوړ کښے پیدا کړے نو دا به دویم موجود شي. اِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَیْئًا اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ۝

بیا دریم دا سے موجود پیدا کړے چه دا دریم کل موجود نسبت لوئی لوا هغه ته داسے وي لکه دے عالم ته چه یوه ذره سیکه او ناپیدا ده. نو دا به دریم موجود شي. بیا دغه دریم کل موجود ذرے کړے. او بیا هره ذره کښے دَ دغه دریم موجود په پوره انداز دَ دغه جمله ذرو په شمیر په کیګ دهوے ذرے مکمل موجود پیدا کړے. چه دا څلورم موجود هغه ته په مثل دَ یوے ذرے وی. بیا دا پنځم موجود جمله ذرے کړے. او دَ جمله ذرو دَ پنځم موجود په پوره شمیر په کیګ دَ هوے ذرے کښے مکمل موجود دَ پنځم موجود په مکمل انداز پیدا کړے. نو دا شپږم موجود شو. بیا دغه شپږم کل موجود ذرے کړے. او په مکمل شمیر دَ کل ذرو مکمل موجود درمله

چه دا جمله شیکم موجودوی ته پرمثل دیوې ذرې دَدې عالم
وی. ډیرخپله او ډیره لویه خاونده بیا په دې شان
اولنی دَتخلیق دَعالمونه ترقیام قیامت روزانه هزار
هزارا ربونه کوته دا شان کبریائی او قدرت ستا پوره کیږي.
شهد الله انه لااله الا هوالعزيز الحکیم ۰ وانا اشهد بما
شهد الله تعالیٰ واستودع الله هذه الشهادة الیٰ یوم القیامة.
نوبیا دغو جمله موجودونو دَباره چه تر قیامته ئے عروج او
تخلیق اوشي. چه کوم میدان دَحساب دَقیامت پیدا کړے په
مناسب دَدوئ. نو دغه دِ ستا په هدایت او احسان مستثنیٰ
هنګامهٔ کبریائی وي. لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم
فتبارک الله احسن الخالقین ۰ سبحان ربک رب العزة عما
یصفون ۰ وسلام علی المرسلین ۰ والحمد لله رب العلمین ۰

نو دغه اخیر تقسیم کیدلے ترورځے دَقیامت دا په آخر
جزد تقسیم وي ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله برحمتک
یا ارحم الرحمین ۰ اللهم صل وسلم علی حبیبی محمد واله
وعترته بعدد کل معلوم لک فی کل لمحة ونفس طرفة
کما انت اهله د تحب وترضیٰ، یا ذالجلال والاکرام
ویا ذالجود والانعام ۰ برحمتک یا ارحم الراحمین ۰

بسم الله الرحمن الرحیم ۰

قدرت نه دِ قربان شم دَقدرت خاوند بهتره
هرکار کښې دِ قدرت ستا عجز نشته دَ له سره

په هره یوه ذره کښې به هزار هزار محشره
برپا هره لمحه په نیم غمزه کړے خپل دلبره

کثرت باندے قادر ئے قل هو الله احده
یوره به دا تخلیق کړے بے نیاز مولا صمده
چه کل مناسبات له ازله نه تر ابده
کم نهٔ وی دَ خپل شانه دَ یوه ویختهٔ له سره

توانا خبیر بصیر لطیف قادر قیوم حکیمه
په هرڅه په قدرت او په حکمت باندے علیمه
زره وی په اندازے دَ آخر جز دَ تقسیم
محشر تر شهره هنګامه کبریائے برتره

دَدے جمله عالم کل تمنا هزار هزار ځل
دَدے جمله عالم جمله وینا هزار هزار ځل
دَدے جمله عالم جمله ثنا هزار هزار ځله
لمحه لمحه کښې نهٔ ده ستا له شانه برابره

دکل عالم په توان کهٔ جملګی عمر کویا یم
ستا یو صفت به او نهٔ ستایم هسے ډیر ادنیٰ یم
نهٔ هغه ئے چه ته ئے ستا ثنا تا لره وایم
سبحانک اللهم ذالجلاله توا منکره

دَعلم په مقدار دِ په دربار کښې سپیلنې شم
په توان احسان ستا هسے ستا په مینه مړ نے شم
دَدے مذکور جمله عالم جمله نعمت نوکے کړم

دَعلم په مقدار ستا هر نَفَسْ خاوند اکبره
تر یو لمحے رضا او لقا ستا خاوند قدیما
تر یو لمحے رضا او لقا ستا خاوند عظیما
تر یو لمحے رضا او لقا ستا خاوند کریما
دا عرض م دے لہ صدق ولہ ایمان او لہ باوره
دَعلم په مقدار ستا په در کرم دا غو ښتنہ،
دَعلم په مقدار ستا پہٗ توفیق ستا خپل سختنہ
دعلم پہٗ مقدار ستا پہ توفیق ستا ذو المننہ
وی تل هره لمحہ کښے دا دعا دِ مکرره
پاک رب العالمین خاونده حقے ستا وعدے دي
ارحم الراحمین خاونده حقے ستا وعدے دي
پاک رب العٰلمین خاونده حقے ستا وعدے دي
مجیب السائلین خاونده حقے ستا وعدے دي
لرم پہٗ گواهي لہ پاک قرآنہ معتبره.
اللہ پہ لوئی عظمت او لیاقت دَ خپل جلال
اللہ پہ لوئی عزت او شرافت دَ خپل وصال
عاجز **محمد امین** پہ ابروئی دَ خپل جمال
سره دَ کل اسلام کړے پہ امان لہ کل ضرره

بسم اللہ الرحمن الرحیم
ازل نہ جام پہ لاس راکړے ما لہ ربٗ دُ مینے
نہ دے ممکن چہ زهٔ بہ پرے دمہ طلب دَ مینے
زهٔ دَهغہ مُدے بیخود دم پہٗ تعلیم دَ فنا یم نن چہ لہ اللہ لوستلو پہٗ مکتب دَ مینے

ښخو دَ مصر دَلا سو نو خون ټہمزکہ توئے کړو
څہ دَ زړه وینے سکم پہٗ لپو بہٗ مشرب دَ مینے
دلداره رب دَ یاره یو ځلے لہ پنځو سره خو،
پرے داشہ ستر گے م فرش کړی پہٗ سبب دَ مینے
نور لنز تو نہ م دَ زهرو غوندے تو کړه لرخولے
ما چہ پہ خولہ کړلو شیرین لذت عجب دَ مینے
نوجوانان بہ دَ وطن پہٗ میدان گوئے دَ مراد
یو سی کہ شو سواره یو ځلے بہٗ مرکب دَ مینے
هغہ دَ بل مطلب پہ زړهٔ تصور کلہ کوي
څوک چہ یو ځل اورسید لو بہٗ مطلب دَ مینے
دغہ شعلہ ده چہ دنړائے کړه تیاره دَ زړونو
کہٗ پہٗ وطن دَ زړهٔ راو ختو کوکب دَ مینے
پہٗ خاستہ مخ دَ دلبرائے **محمد امینہ**
غواړه توفیق لہ ذوالجلالہ پہٗ ادب دَ مینے

دَ ترنگزو حاجی صاحب رحمۃ اللہ علیہ پہٗ مدحہ کښے،

نصیب دِ شجاعت شہ دَ علی شاه مردان	قربان پیره قربان
خوشحال دِ دوستان او سہ غمجن دِ دشمنان	قربان پیره قربان
نصیب دِ شجاعت شہ چہ پہٗ دین کوے غیرت	سردار دَ عزت
زهٔ نہٗ دینہ ستا غوندے نیولے پہٗ کل جهان	قربان پیره قربان

په وينو دَ کفارو دِ شمشير اوسه تل رنګ
بل نشته غيرتي پيره مختاره ستا پشان
الله دَ ياره او دِ کړو هجرت کامله پيره
په مال او سر حصار نه ې په لار کښې دَ سبحان
غزا ته خوشحاليږې دَ اختر نه زيات مرشده
دې دين د محمدؐ رسول الله پتا روښان
دَ دين دشمنان تا نه تل په غم دي په غم اوسه
مدام ستا له دهشته کافران اوسه لرزان
په حقه دَ حضرت رسول الله دَ دين غازي
الله دِ پيښور کړی پتا ښير ته ګلستان
الله دِ کړي نصيب دَ **محمد امين** خاکسار
دَ ستا د يدن اکسير او کيميا په خپل احسان

دَ خپل اسلام په ننګ
قربان پيره قربان
روښان بدر منيره
قربان پيره قربان
عالي صفات مرشده
قربان پيره قربان
په کور ې ماتم اوسه
قربان پيره قربان
اې شاهِ ترنګزي
قربان پيره قربان
هم ليل وهم نهار
قربان پيره قربان

منقول از قلمي کتاب قديمي

په مدحه دَ حاجي صاحب مجاهد اعظم ترنګزی کښې

منقول از قلمي قديمي کتاب

عزت شرف دِ مبارک شه هزار وار اقا
رب ذوالجلال خو دِ نصيب کړه چار ديدار اقا
عزت شرف دِ رب نصيب کړه لاثاني صاحبه
اوسه پتا دَ پاک الله ليل و نهار آقا
بخره دِ زيات ته شه دَ رب په لوئے دربار آقا
دواړه جهانو کښې دِ زيات اوسه اجر وهم عزت

شمه دررزار اقا
شمه دررزار اقا
مهرباني صاحبه
شمه دررنار اقا
شمه دررزار آقا
شه دِ نصيب معرفت

دَ شريعت او طريقت او معرفت صاحبه
فيضان دِ زيات شه دَ حضرت دَ دين اقا
د محمدؐ رسول الله دَ دين غمخوار اوسے مدام
اوسه په امن له خزانه ستا ګلزار اقا
عزت شرف دِ نصيب اوسه بهادر مرشده
ستا له شمشير کفار اوسه تل افکار اقا
دَ محمدؐ رسول الله په دين قربان مرشده
تا نه خوشحال اوسه حضرت نبي اقا مرشده
اوسے مدام اې محترم او ذوالوقار اقا
ستا تعظيمونه ستا اکرام تا نه حيا ستا ادب
زه ناتوان يم زه عاجز او خاکسار اقا
ستا له هرو بختهٔ له سره زر خو دل و جان
ستا قدمونو نه يم زار شه مورو پلار اقا
د محمدؐ رسول الله شه لولاک په خاطر
هغه نظر غواړم چه شمه پرے انوار اقا
دَ عاجزی کچکول په لاس کښې دَ **محمد امين**
او کړه احسان په فخر دَ پاک نبي سردار اقا

د حقيقت صاحب
شمه دررزار اقا
ګلشن سمسوا اوسے تل
شمه دررزار آقا
د ير دلاور مرشده
شمه دررزار اقا
غيرتي ځوان مرشده
شمه دررزار مرشده
شمه دررزار اقا
سپارلي ما دی په رب
شمه دررزار اقا
اوسه مختاره قربان
شمه دررزار اقا
دَ حضرت پاک په خاطر
شمه دررزار اقا
مرشد غيوره دَ دين
شمه دررزار آقا

اخر کښې دَ رسمي پيرانو په حق کښې نظم

دَ کتاب ديوان مداح (رديف التاء) صفحه ۸۰ نه اوليکلې شو،

هئے افسوس نن په دوران دَ جهالت،
هر ځائے جوړ شو دَ پيرانو تجارت،

خائے په خائے پیرانو جوړ کړل دوکانونه
خوخوي په مریدانو عبادت
د یو پیر مرید بل پیر ته سپکه وائي
وائي بر پیر خمونږ شو ختم عنایت
هرڅوک وائي نشته بل په جهان غوث
بس خمونږه د صاحب دے غوثیت
که پوښتنه ترے د پیر د صفت اوکړے
د لنګر به نے کړی شروع د ده صفت
په جهان کښے نن لنګر هسے کمال شو
چه په هر کمال نے اوکړو فوقیت
هیڅ تپوس د صفائی د باطن نشته
نه تپوس شته دے د لاره د شریعت
په خلاف د شریعت کوی کارونه
بیا هغه بولي د پیر خرق عادت
څوک د چرسو په نشو شي پیر بللے
څوک د ډمو په مجلس او په بدعت
څوک د ذکر په حلقه کښے کړي رقصونه
څوک د ښځو په پیری ګټي دولت
نه په لاره د مولی کښے قربانیږي
نه بلو دار ته د اسلام کوي هجرت
غلامئ کښے نے په فخر وي آغوسته
قبا کانے او چغے د کرامت

زه د داسے پیر اسلام ته په سودا یم
مریدان نے راته شماری ولایت
که تپوس ترے د شرعي مسئلے اوکړے
نو صاحب در ته ښکاره به کړي دهشت
مریدان به وائي پاسه بے ادبه
د صاحب په مخکښے مکړه مقالت
چرته ته چرته پوښتنه د صاحب نه
نشته ستا غوندے بل شوخ او ملامت
صاحب تا سره خبرے کوی جرته
اے کم بخته څومره ستا دے حیثیت
که په بخت دیر زوره ور نے ترے به خلاص شے
ګنړے نه به شے په خیر ترینه اوچت
پیر هغه دے چه په شرع مستقیم وي
وی خبر په معرفت او حقیقت
د اسلام نه قربانی د ده پیشه وي
د توحید د کلمے ګټي عزت
مریدانو ته هم [illegible] د خدائے په لاره
کوی دے د قربانئ پند وصیت
بے له خدایه نے په زړه کښے نه وي خوف
نه ویریږي د شیطان د زوی قوت
همیشه نے توکل په یو مولا وي
نه پټیږي قربانئ ته په خلوت

للفقیر محمد نواز خان علی



Muhammad Nawaz
Khan
Ali
Contact:

دَ سبا لےُ قدم ےُ تل پہ سپین میدان وی
پبتٔ ځ نۂ کینی پہ شانِ دَ عورت
ملاقات ےُ بے درخواستہ حاصلیږي
پۀ ښکارہ جوند کړی پہ شان دَ پاک حضرتؐ
دَ حضرتؐ پہ شریعت باندے روان دی
دَ حضرت غوندے لری خوۓ او عادت
ھغہ پاک پیران نن ھم پہ جھان شتہ دے
څوکسان چہ رب ورکړے دے ھمت
عجب ښکلی صفتونہ پکښے شتہ دے
پیروی دَ پاک حضرت ےُ خوۓ خصلت
کہ ےَ یاد کړم څوک بہ وائی طرفدار دے
او ځما غرض خودۓ نیک نصیحت
چہ دَ خدا ۓ پۀ در کښے ښۀ وی ھغہ ښۀ دے
پہ صفت پۀ یاد ےُ ھیڅ نشتہ حاجت
زۀ **محمد امین** خاکروب دَ ھر مسلم یم
چہ کوی دَ پاک حضرتؐ دَ دین خدمت

تمت بالخیر

شائع کردہ:-
نورانی کتب خانہ بازار عمرزئ
تحصیل وضلع چارسدہ